مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خالق رشید

۲۰۱۹/۱۱/۰۲

# بي نومه، اتل سپي؟

## (لنډه کیسه)

تیرمابنام و، ډوډۍ موخوړلې وه چې بیا دسپیوغپاوو زموږ کوڅه په سرواخیسته، موږ چې ماشومان وو کله به چې دشپې دکلي سپیوهمداسې یوپه یوغپا پیل کړه نوورسره سمه به مې اناهم راوتوریده اویوپه یوبه یې ترخوله همدایوه جمله ځوواري راووته :

ـ خدایه خیر، خدایه خیر... لکه چې لیوان اوپړانګان پرکلي راګډ شوي، تاسې وګورۍ چې هغه زموږ سپین خرخوبه دباندې نه وي پاتې شوې ... دسپیودایوپه یو غپا خوبې څه نه وي ...

موږ به هم آرام پاتې شوواوترهغوچې به ویده کیدو د سپیوغپا ته به مې غوږ نیولی وو ...خواوس چې په ښارکې، هغه هم دکابل په ښارکې اوسو ... نورنوهرڅه بل ډول شوي، کوڅې له کړکیو له لرې لرې په نیمه شپه کې هم راته ښکاري... او تردې هم مهمه داچې اوس هرڅه د تلویزیوني کمرواوپردو پرمخ لیدای شوواودومره بیواکه یوچې اوس غله له چا نه پټیږي اونه هم په پټه له چا غلا کوي،هرڅه غلا او وژنه دا ټول په رڼا ورځ د خلکو په مخ کې په داسې حال کې چې د لسګونو هیوادوپوځیان هم دلته پراته دي ترسره کوي ...ما په همدغه سوچ کې تلویزیون ته کتل چې کوم یوه یوناڅاپه غږ کړ :

ـ چپ چپ چې مهم خبردې ...

له خبرسره سم ناڅاپه دتلویزیوان پرمخ دوه انځورونه هم غبرګ را وپړکیدل ... دامریکاولس د مشر او په ځنګ کې یې د په تورکې نسواري رنګه سپي، دواړه په یوه وخت اویوه پرده باندې، داسې چې مشرموسکی و او سپي ترهغه لړ په مغروره ځیره دکامرې مخې ته خپله ژبه رایستلې وه اویوه بدوږمه غږ ههه ههه هه هه ... یی دتلویزیون پرده لړزله چې د نطاق ترخوله راووتل :

ـ دغه سپي چې نوم یې دویلو وړنه دی لویه قرباني ورکړې اولویه اتلولی یې امریکا ته ورپه برخه کړې ده ...

کله چې ما داخبرواورید، پرخدای باوروکړئ ، پرما ګنهکاریې مه کوئ چې هغه دماما د زوی د امریکایی سپیو چې روسي ځنځرونه یی په غاړوکې وو خبره رایاده شوه چې ویل به یی » داسپي پردغوځنځیرو ارزي « ... هو، همدغه خبره مې سترګو ته تیکه ودریده، اوپردې مې باوروشو چې دسپیو په باره کې که دماما زوی ولي نه و نوخالي هم نه و ،ځکه چې دسپیو، هغه هم د امریکایی هغو په باره کې هوایي نه غږیده، په دغه سپي کې هم چې اوس یې د دومره لوی ملک له مشرسره عکس ځنګ په ځنګ ښودل کیږي څه کمال او جمال خامخا شته ....

ویندوی هم ترموږ بدترلانه پوهیده چې سپي څه اتلولي کړې ده ؟ خودرګرده دا وایي چې په دغه اړه به نن ناوخته مشروینا کوي، هغه تردې زیات نورڅه ونه ویل چې ګواکې سپي دا کړې اویا یې انځورترمشرپه دغه اویا هغه لامل دومره هم لوړوښودل کیږي ؟... خبرتیرشو، عکسونه هم له پردې پربله لاړل خو زموږ په کورکې خو تاسې پوهیږئ چې زما له انا رانیولې بیا زما ترکوچنۍ خور پورې هریوه خپلې خپلې تبصرې راپیل اووډنګولې، خبرونه لا نه ول خلاص چې په هسکه مینه بل خبرراپیل شو، پرهغه سیمه چې هلته د زماني غمیزې ژړیده او په لسګونو خالي قبرونوخپلې خولې شهیدو جنازوته خلاصې نیولې وې او دبې ګناه بندګانود مړود ټوټو نغاړولو ته یې سترګې ځلورشوې وې، خوزموږ دغه لوی غم ته هیڅ فکرنه و اویوازې مو د هغه لوی اوظالم ملک دمشر اونسواري رنګه توربخن سپي پرعکسونو باندې تبصرې اوتحلیلونه پیل کړل :

ـ ګل ببوانا : له عکسه خو معلومیږي چې لکه چې سپي دلوی ملک مشر داړلی وي ...

ـ ګلوخان آکا:یاره ماته خوترکومه چې خونکار معلوم دي،دکومې خونکارۍ نښې ددغه سپي په سترګوکې هم ښکاري ...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

- ليونی لالا: هرڅه چې وي ، دترمپ عکس ورسره دی، تاوان نه لري... درناوی د دواړو پرما حق دي ...
- ګلمرجان ماما : نه چې، له دغه سپي سره خوبه چا واده نه وي کړي، سپي خو لکه ما فيشني ښکاري ...

اويوازې شيرخان ماما وچې چپنه يی ترځان را تاوکړې وه څه يې نه ويل ځکه خوزه آرام ورنيژدې شوم اوغږمې پر وکړ چې ګواکي يوڅه خو ته هم ووايه ... را ته موسکي شو، ځان يی سره وښوراوه، يوه لنډه جمله يې د زړه له تله راويسته :

**- خدای لوی دی اودهسکې مينې شهيدان زورور !**

زموږ ددغواوتو بوتو لړی دومره اوږده شوه چې خبره نژدې مابنام ته ورسيده ، د ترمپ او سپي عکسونو هرڅه را نه هيرکړي وو،ځدای، لمونځ ، دعا او پرقربانيانوخواشيني ... نن تهوله ورځ په هرخبرې سرويس کې تود خبرهمداوچې : دامريکايی الوتکو په هوايی بريد کې د ملکی بی ګناه وژل شويو شمير، په کندهارکې شل تنه ، په فارياب کې پنځوس تنه .... په کندزکی اويا تنه ، په ارزګان ځلويښت تنه ، په غورکې د لسوماشومانواو ښځوپه کډون ديرش تنه ... خوموږ داسې ورته بی احساسه شوي ووچې فکرموکاوه داد انسانانو شميرنه دی، چرګان دي اوياهم دهوا مرغان... ان چې ديوې ساده دعا احساس موهم ددغوتلپاتې شهيدانوپه وړاندې چې دنړی له يوه ظالم ځواک سره يې دغږې وهلې له ياده وتلي و... اوموږ لاهم انتظاريوست چې دترمپ اوسپي له عکسونو څه راوزي ...په موږ تهولوکې يوازې شيرخا ن ماما وچې خپله چپنه به يې وځنډله،خپل لمونځ به يی وکړ، بيرته به په خپل ځای کيناست اوخپله خبره به يی کله په زوره اوکله په آرامه را تکرارکړه :

**- خدای لوی دی اودهسکې مينې شهيدان زورور !**

ما ښام ناوخته و، مورمې د ماښامنې تا بياکوله، ماته يې راغږکړ چې راځه، اوس خو به په هوايي خبروستړی شوي ياست، دا ملک خو دغو هوايی خبرو وران وران کړ، ډوډی تياره ده درواړه ... ور پورته شوم، دمورمې هسې هم دازموږ هوايی خبرې ښې نه ايسيدې، ډاريدم چې نورو ته يې زور نه رسيږي زړه پرما تش نه کړي اوبيا چغه راپسې ونه کړي ... په همدغه کې وم چې دتلويزون پرمخ بيا سورسرې سړي اوسپي دواړه راوپرکيدل ، نطاق داخل ترسپي دمخه د سړي عکس ته کتل اودهغه په باره کې يې معلومات ورکول، سپي هم هغسې د پردې پرمخ سونګيده اود هه هه هه ... غږيی د تلويزيون پرده لړزوله ...خو نطاق خپلو ويلو ته دوام ورکړ :

- دا سپی چې نوم يې نه په ډاګه کيږي ، ډيرنامې اواتل سپی دی ... لويه اتلولې يی کړې ... سره له دې چې ټپې شوی هم دی، اوتردرملنه لاندې دي خو بيا هم خپل کارکوي، اوآرام نه دی ناست، لوی نامې دی اولوی اتل، ده امريکا ته لوی وياړ ورپه برخه کړ ... هو ، لوی وياړ... تاريخی وياړ ...اوده سپيو ته هم تاريخ جوړکړ ...

په کوټه کې ارامه آرامې وه ،يوازې له دباندې مې د مورغږ درګرده راته چې اوس خو به په هوايی خبرو... خوموږ دهغې دخبرې پرځای د تلويزيون پرمخ د سپي ننداره کوله، د ګلوخان آکا زړه آرام ونه کړ،ځکه يی غږ را پورته شو :

- دا احمقان ولی دهغه نوم نه اخلي ... په دې کې څه خبره ده چې وايي نوم يی نه په ډاګه کيږي ... نه په ډاګه کيږي ....

شيرخان ماما په ځيرځيرورته وکتل خپله چپنه يې بيا سره راتوله کړه اوورته موسکی شو :

- نوم دې غټ دی خو ساده ګی دي لاهم هغه زړه ده... هرڅوک چې ښه سپي ساتي، پرهغو ښه نومونه ږدي او هغه بيا له ځان سره ساتي ،ښه سپي خپله خپل نوم پيژني اوپه ځای يې پيژنی... يوازې دی پوهيږي اوخاوند يې چې نوم يې څه دی ؟ که دهغه په نامه هرڅوک پوه شي،نوبيا خوبه هرڅوک هغه پيژني اوچغی به پسې وهې ...ساده کيږه مه ... د ښو اومهموسپيو نومونه تل له باداړانوسره خوندي وي ... !؟

داصلي کيسې په اړه دمشروينا پيل شوه ، عکسونه يوپربل پسې د تلويزيون پرپرده باندې د سورسرې مشرله وينا سره تلل او راتلل ، وژل ، بمباري، اوتوره لوخړه دا ټول سره يوځای شوي وو، يوځاي يوتصوير داسې هم را وپرکيد چې همدغه سپی دانسان دبدن ټوټه په خوله کې نيولې راکشوله اوګوډ ګوډ ورسره خوځيده... وينا لا روانه وه چې په تکرارسره يې ويل، په غارکې پټ و، مړموکړ، مړمو کړ... نورنوهغه د تل له پاره موږ دوزخ ته واستاوه ...

ټول آرام ناست وو، زه را پورته شوم ، شيرخان ماما ته مې وکتل، دهغه په څيره کې هيڅ ډول بدلون نه ليدل کيده... هغه د انسان هغې ټوټې ته چې دسپي په خوله کې وه هم په حيرانی سره نه کتل، داسې ښکاريده چې ګواکې هيڅ هم نه دي شوي ... دا چې وينا کونکې په وياړسره ويل چې مړموکړ... د ګلوخان آکا سترګې له اوښکو ورته را ډکې شوې ، ګلمرجان ماما کم پاتې و چې په کوټه کې اټن پيل کړي ... اوخبر پای ته ورسيد ، زه بيا شيرخان ماما ته ورنژدې شوم :

-ما ما تا هيڅ عکس العمل ونه ښود ؟

- د څه او چا له پاره ؟

- هغه انسان نه و چې سپي را کشاوه ؟

- نه !

- ولي ؟



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**ـ دهسکي میني شهیدان انسانان نه وو، مسلمان نه وو ؟**

له دغې خبرې سره سم ماما راته په قهرشو، مانا دا چې  دده درد دومره ژورو چې نوریی خپل بوتونه په پښوکړل اوپرته له دې چې ماښامنی له موږ سره وخوري له کوره روان شو، ډیرپه قهر و، بې خدای پامانی ووت ، ورپسي ووتم ... نه راته ښکاریده، خوغږیی د کوڅې زینوکي په غړمبا سره پورته راته :

ـ ده پرموږ رحم وکړ؟

ـ پرانسان یي رحم و کړ ؟  چې اوس موږ له سپي ، هغه هم له بې نومه ظالم سپي ده ته د رحم هیله ولرو ؟

ـ نه نه ، زما اوس سم باوروشو چې دادهم هغو بې گناه شهیدانوانتقام و، انتقام...   هغه چې له یوې اوونی را په دیخوا زما پرخوله راته :

**ـ خدای لوی دی اودهسکي میني شهیدان زورور !!!**

پای

د شل نولس کال  د اکتوبر ۲۸



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ